د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د بشري علومو معاونیت

د ژبو او ادبیاتو مرکز

د زېري جریدې مدیریت

# معاصرې ادبي او ژبنۍ نظریې

## (علمي - څېړنیزې مقالې)

**د زېري جریدې د ۱۴۰۵ل. کال د کالګڼې لپاره مقاله غوښتنه**

## د موضوع ارزښت

معاصرې نظریې هغه فکري او کره‌کتنیز چوکاټونه دي چې د متونو د تحلیل، تفسیر او ارزونې لپاره کارېږي. دغه نظریې په یوه ژبه کې لیکل شوي متنونه له نوو زاویو څېړي او نوو بحثونو، پنځونو او څېړنو ته لار هواروي. هر څو که دغه نظریې په تېرو څو لسیزو کې رامنځته او د نړۍ په ژبو او ادبیاتو کې دود شوې دي، خو په پښتو ژبه او ادبیاتو کې لا هم دا چوکاټونه په پراخه کچه څېړل شوي نه دي او لا هم په دې برخه کې تشه احساسېږي.

## د ټولګې موخه

په پښتو ژبه کې د معاصرو نظریو په اړه د څېړنیزو مقالو په بڼه یوه داسې ټولګه ترتیبول چې په کې د معاصرو نظریو بېلابېل اړخونه را برسېره شوي، څېړل شوي او وړاندې شوي وي.

## د مقالو محورونه

**√ د ادبي نظریو محورونه**

۱. متن‌محوره نظریه (Text-Based Theory)

۲. لوستوال‌محوره نظریه (Reader-Based Theory)

۳. نوې تاریخ پالنه(New Historicism)

۴. رواني نظریې (Psychological Theories)

۵. پس استعماریت (Postcolonialism)

۶. چاپېریالي کره‌کتنه (Ecocriticism)

۷. ادراکي ادبي نظریه (Cognitive Literary Theory)

۸. او نور...

**√ د ژبنیو نظریو محورونه**

۱. رغښتواله (Structuralism)

۲. پس‌رغښتواله (Post-Structuralism)

۳. چاروواله (Functionalism)

۴. ادراکي ژبپوهنه (Cognitive Linguistics)

۵. زېږنده – اوړوني ژبپوهنه (Transformational-Generative Linguistics)

۶. او نور...

اړیکې د زېري جریدې اداره؛ برېښنالیک: zeray1316@asa.gov.af • zerai1316@gmail.com • وټس اپ: 780831960 (0) 93+

## د مقاله لیکنې لارښود

۱. مقاله دې د لیکوال له نوم، تخلص، علمي رتبې (که یې ولري)، دندې، اړیکشمېرې او برېښنالیک سره مل، په ورکړل شوو ادرسونو را ولېږل شي.

۲. رالېږل شوې مقاله باید علمي-څېړنیزه، نوې او له منل شوو علمي معیارونو سره برابره وي.

۳. په بل ځای کې باید خپره شوې نه وي.

۴. سرلیک یې باید لنډ او له منځپانګې سره سمه وي.

۵. مقاله باید لنډیز، کلیدي کلمې، سریزه، موخه او مبرمیت، د څېړنې پوښـــتنې، د څېړنې میتود او ډول، اصل متن، پایله، وړاندیزونه او مأخذونه ولري.

٦. لنډیز باید تر ۲۰۰ کلمو زیات نه وي او د یونیسکو په یوې ژبې لیکل شوی وي.

۷. مأخذونه باید د APA په بڼه وي.

۸. مقاله باید د لیکوالۍ له اصولو سره سمه وي، املایي او انشایي تېروتنې و نه لري.

۹. مقاله دې اداري ته په سافټ (ورډ) او هارډ بڼه را ولېږل شي.

۱۰. کتنپلاوی د علومو اکاډمي د نشراتي لایحې او د اسلامي امارت د پالیسۍ له مخې د مقالې د تایید، رد او سمون واک لري.

۱۱. رالېږل شوې مقاله بېرته نه مستردېږي.

- د هېواد ټولو څېړونکو، استادانو او لیکوالو ته په خورا درنښت بلنه ورکوو چې په ورکړل شوو او ورته نورو محورونو کې خپلې علمي- څېړنیزې مقالې له ټاکل شوو اصولو سره سمې ولیکي.
- د کتنپلاوي د تأییدولو لپاره د مقالې د سرلیک رالېږلو وروستۍ نېټه: **د وږي (سنبلې) ۱۰مه ۱۴۰۵ل.**
- د مقالې د رالېږلو وروستۍ نېټه: **د تلې (میزان) ۳۰مه ۱۴۰۵ل.**

**پته: د زېرې جریدې دفتر، علومو اکاډمي، توره باس خان څلور لارې، نوی ښار، کابل**